مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ولـی ناروغ

۲۰۲۱/۰۱/۲۲

# خارګر

له داسي ژونـده څه حاصل چي تل تـر خـار لاندي وي
ګفتار پـه دار، کردار پـــه دار، پـندار په دار بانـدي وي

چـــي د تـــقديـــر پـه زولـــنـو بانـــدي تـړلی وي ژونـد
راتګ په دار، ورتګ په دار، نه تګ په دار باندي وي

چي د مشـــروع او نا مشـــروع پـولي یـی بیلي کـړلـی
خـوړل په دار، څښل په دار، کـتـل پـه دار بانــدي وي

کـه د هـــوس د اور لـــمبو ته دي غیـــر پـرانســـتله
له ځـانه دار، لـه خلکو دار ، له خدایـــه دار بانـدي وي

چـي د ریـا په اوښـــکو وویـنـځي کـــعبه لـه ویـــري
ســـجـده پـه دار، تـــوبه په دار، بـنـده په دار باندي وي

ولـی ناروغ


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ